سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۴/۱۷

# تـــــرانـــــي

ډیر می سر خوږیږی د جانان ترانې و وایه

ماتـه د «جـلان» او د «کاروان» ترانې و وایه

لار می خطا کړی د ایمان او د پښتو لاره

خـولې د «جهانی» نه د ایمان ترانې و وایه

زه د عشق ګمراه یمه کعبه می ورکه کړیده

سم چې شم کعبې ته د «رحمان» ترانې و وایه

دا د نن افغان چې کا «پیوند» دتیر پرون سره

بیا د پرونی ستر«خوشحال خان» ترانې و وایه

یادی کړه چونغر ته د «لایق» انقلابی نغمی

جوړ د اور کابل ته د «روښان» ترانی و وایـه

نه ښکاری غزل کی د «حمزه» د وینو سره څاڅکی

شابه! د شـمشاد او د بـولان ترانې و وایه

نه پاڅې له خوبه تر قیامته دا رنځـور د خوب

غوږ کی دی رنځور ته د «امان» ترانې و وایه

زوږشوی کلیواله خو د کلی نه بهر زوږ شوی

سـاتی چې دا کلـی د کوم «خان» ترانی و وایـه

تورنتو ـ کانادا نومبر/۲۳/۲۰۱۳

یادونه: په ناخونک قوسونو کی داخل نومونه زمونږ د افغانی ټولنی وتلی شاعران او ستر میرنی دی چی افغان ملت وربانـدی ویاړی، او وروستی د «خان» کلیمه د ټولو هغو میرنیو د پاره کارول شویده چی د وطن په ساتنه کی یوه شیبه هم دمه نه ده کړی او دښمن ته یی د آرام سا ویستلو موقع نه ده ورکړی لکه: ملی قاید میرویس خان نیکه، غازی محمد اکبرخان، غازی محمد ایوب خان،غازی میر مسجدی خان او نور او نور.......